## د ټــاکنو د قانون د توشيح په هــکله د افــغانــستان داسلامي جمهوريت درئيس فــرمان

ګڼه :(۴۳)

نېټه : ۲۸ / ۱۱/۱۳۸۸

لومړۍ ماده :

د ټاکنو قــانون چــې د وزيرانــو شوري د ۱۱/۲۴ /۱۳۸۸ نېټــې د (۴۵)ګڼې مــصوبې پربنــسټ تــصويب شــوى دى، توشــيح کوم.

دوه يمه ماده:

دعدليې وزيراو په پارلماني چاروکې ددولت وزير مؤظــف دي، دغــه فرمان د ملي شــوري د لــومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخــه د (۳۰) ورځو مودې په ترځ کــې، هغې شوري ته وړاندې کړي .

## فــرمان رئيس جمهورى اســلامى افغانستان در مورد توشيح قانون انتخابات

شماره:(۴۳)

تاريخ:۲۸ / ۱۱/۱۳۸۸

مادۀ اول:

قانون انتخابات را که به اساس مصوبۀ شماره (۴۵) مؤرخ ۱۱/۲۴/ ۱۳۸۸ شــوراى وزيــران تــصويب گرديــــده اســـت، توشـــيح مى دارم.

مادۀ دوم:

وزير عدليــه و وزيــر دولــت در امــور پارلمــانى مؤظــف انــد، ايـــن فرمـــان را در خـــلا ل مــــدت (۳۰) روز از تـــاريخ انعقاد اولين جلسۀ شــوراى ملــى، به آن شورى تقديم نمايند.

**درېيمه ماده :**

دغه فرمان دې لــه قــانون ســره يوځای په رسمي جريده کې خپــور شي .

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي**

**جمهوريت رئيس**

**مادهٔ سوم :**

اين فرمــان همــراه بــا قــانون در جريـــدهٔ رســـمی نـــشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

## د ټاکنو د قانون په هکله د افــغانستان د اســـلامي جمهوريت دوزيرانو شوري مصوبه

ګڼه: (۴۵)
نېټه: ۲۴ /۱۱/ ۱۳۸۸

د افغانستان د اسلامي جمهوريــت د وزيرانـــو شـــوري چـــې د خپلــــې۱۳۸۸/۱۱/۲۴نېټـــــې پــه غونــډه کــې دټــاکنو قــانون پــه (۱۴) فــصلونو او (٦٧) مــادو کـــې تـــصويب کـــړی دی، منظوروم.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبۀ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان درمورد قانون انتخابات

شماره :(۴۵)
تاریخ: ۲۴ /۱۱/ ۱۳۸۸

شـــورای وزیـــران جمـــــهوری اســــلامی افغانــستان کـــه در جلـــسۀ مـــؤرخ ۲۴ /۱۳۸۸/۱۱ خویش قانون انتخابات را بـــداخل (۱۴) فـــصل و (٦٧) مــــاده تـــصویب نمـــوده اســـت، منظور می دارم .

**حامد کرزی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

# فهرست مندرجات

## قانون انتخابات

## فصل اول

## احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول : | مبنیٰ........................................................ | ۱ |
| مادۀ دوم : | اصطلاحات............................................... | ۱ |
| مادۀ سوم : | طرز انتخابات.............................................. | ۴ |
| مادۀ چهارم: | اصل تساوی حق رأی.................................. | ۴ |
| مادۀ پنجم : | رعایت اصل آزادی اراده............................. | ۵ |
| مادۀ ششم: | همکاری ادارات و اشخاص........................... | ۵ |
| مادۀ هفتم : | عدم مداخله کارکنان دولتی در امور انتخابات............ | ۶ |
| مادۀ هشتم: | نام اختصاری................................................ | ۷ |

## فصل دوم

## حوزه های انتخاباتی

| | | |
|---|---|---|
| مادۀ نهم: | تعیین حوزه های انتخاباتی................................ | ۷ |
| مادۀ دهم: | اختلافات مرزی حوزه های انتخاباتی.................... | ۸ |

## فصل سوم

## انتخاب کنند گان و کاندیدان

مادۀ یازدهم: شرایط انتخاب کنندگان ........................۹
مادۀ دوازدهم: شرایط کاندیدان........................................۱۰
مادۀ سیزدهم: محدودیت برای کاندید شدن ........................۱۴
مادۀ چهاردهم : محل رأی دهی........................................۱۶
مادۀ پانزدهم: تثبیت هویت رأی دهنده................................۱۷
مادۀ شانزدهم: شکل و تعداد اوراق رأی دهی..........................۱۸

## فصل چهارم

## انتخابات ریاست جمهوری

مادۀ هفدهم: انتخاب رئیس جمهور.................................۱۸
مادۀ هجدهم: آغاز کار رئیس جمهور...............................۲۰

## فصل پنجم

## انتخابات ولسی جرگه

مادۀ نزدهم: تعداد اعضای و لسی جرگه..........................۲۱
مادۀ بیستم: اختصاص کرسی ها.......................................۲۱
مادۀ بیست ویکم: تثبیت ارقام نفوس کشور...........................۲۳
مادۀ بیست ودوم: تفویض کرسی های ولایتی.........................۲۴
مادۀ بیست وسوم: اختصاص کرسی به کاندید زن......................۲۶

## فصل ششم

## مشرانو جرگه

مادۀ بیست و چهارم: ترکیب مشرانو جرگه................................۲۸
مادۀ بیست وپنجم: انتخاب نمایندۀ شورای ولایتی........................۲۹
مادۀ بیست و ششم: انتخاب نمایندگان شوراهای ولسوالی های ولایت....۳۱

## فصل هفتم

## انتخابات اعضای شورای ولایتی

مادۀ بیست وهفتم: شورای ولایتی.........................................۳۴
مادۀبیست وهشتم: اختصاص کرسی به شورای ولایتی........................۳۵
مادۀ بیست ونهم: عضویت شورای ولایتی...................................۳۶

## فصل هشتم

## انتخابات اعضای شورای ولسوالی

مادۀ سی ام: شورای ولسوالی.............................................۳۹
مادۀ سی ویکم: اختصاص کرسی به شوراهای ولسوالی ها...........۳۹
مادۀ سی ودوم: عضویت شوراهای ولسوالی ها.........................۴۰

## فصل نهم

## انتخابات اعضای شورای قریه

مادۀ سی وسوم: شورای قریه..........................................۴۲
مادۀ سی وچهارم: اختصاص کرسی به شورا های قریه.................۴۳
مادۀ سی وپنجم: عضویت شورای قریه..................................۴۴

## فصل دهم

### انتخابات شاروال ها


مادۀ سی وششم: طرز انتخاب شاروال.......................۴۵

مادۀ سی وهفتم: تعیین شاروال جدید...................................۴۹


## فصل یازدهم

### انتخابات مجالس شاروالی


مادۀ سی وهشتم: مجالس شاروالی.....................................۵۱

مادۀ سی ونهم: تعداد کرسی ها............................................۵۲

مادۀ چهلم: اختصاص کرسی ها..............................................۵۳


## فصل دوازدهم

### تدویر انتخابات


مادۀ چهل و یکم: تاریخ انتخابات.........................................۵۶

مادۀ چهل ودوم: لست رأی دهندگان....................................۵۶

مادۀ چهل وسوم: درخواست کاندیدی....................................۵۷

مادۀ چهل وچهارم : لست کاندیدان........................................۶۴

مادۀ چهل و پنجم: انصراف کاندیدان......................................۶۵

مادۀ چهل وششم: مبارزات انتخاباتی ...................................۶۶

مادۀ چهل وهفتم: تأسیس مراکز رأی دهی و تهیه مواد انتخاباتی........۶۶

مادۀ چهل وهشتم: صندوق های رأی دهی ..............................۶۷

مادۀ چهل ونهم: اوراق رأی...................................................۶۸

مادۀ پنجاهم : ناظرین و مشاهدین.........................................۶۹

مادۀ پنجاویکم: برداشتن مواد تبلیغاتی....................................۶۹

مادۀ پنجاه و دوم: منع حمل سلاح در مراکز رأی دهی.................۶۹
مادۀ پنجاه وسوم: آغاز و ختم رأی دهی.....................۷۰
مادۀ پنجاه و چهارم: اعتراض در مورد رأی دهی......................۷۱
مادۀ پنجاه وپنجم : مهر صندوق های رأی دهی ....................۷۲
مادۀ پنجاه وششم: شمارش آراء..........................................۷۳
مادۀ پنجاه وهفتم : قرنطین صندوق های رأی.........................۷۳
مادۀ پنجاه و هشتم: ارایه و تصدیق نتایج..........................۷۴
مادۀپنجاه ونهم: پخش و نشر افکار و نظریات کاندیدان..............۷۵
مادۀ شصتم : کمیسیون رسانه ها.......................................۷۶

## فصل سیزدهم

## شکایات و تخلفات انتخاباتی

مادۀ شصت ویکم: کمیسیون شکایات انتخاباتی..........................۷۸
مادۀ شصت ودوم: صلاحیت کمیسیون های مرکزی و ولایتی شکایات انتخاباتی ......................................۷۹
مادۀ شصت وسوم: تخلفات انتخاباتی ......................................۸۱
مادۀ شصت و چهارم: تحریم و مجازات.......................................۸۵

## فصل چهاردهم

## احکام متفرقه

مادۀ شصت وپنجم: تعویق یا تعلیق انتخابات.............................۸۷
مادۀ شصت وششم: ترتیب لوایح و طرزالعمل ها ........................۸۹
مادۀ شصت وهفتم: انفاذ.................................................۸۹

بسم الله الرحمن الرحیم

# د ټاکنو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د دري دېرشمې مادې د حکم له مخې په هېواد کې د ټاکنو داړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی.

**اصطلاحات**

**دوه یمه ماده:**

لاندې اصطلاحات پدې قانون کې لاندیني مفاهیم افاده کوي:

۱- ټاکنیزه حوزه: هغه ساحه چې د کاندیدانو او درأیې ورکوونکو د رأیې ورکونې لپاره ټاکل کېږي.

۲- څارونکي: هغه اشخاص چې د

# قانون انتخابات

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون به تأسی از حکم مادۀ سی و سوم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به انتخابات درکشور وضع گردیده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- حوزۀ انتخاباتی:ساحۀ که برای کاندیدان و رأی دهی رأی دهند گان تعیین می گردد.

۲- ناظرین: اشخاصی که به

سياسي ګوندونو او خپلواکو کانديدانو په استازيتوب د ټاکنو پر بهير د څارنې په منظور د ټاکنو دخپلواک کمېسيون لخوا،اعتبار ليک ترلاسه کوي .

۳- ليدونکي: هغه ملي او بين المللي اشخاص چې د ټاکنو د بهير د ليدنې په منظور د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخوا، اعتبار ليک ترلاسه کوي.

۴- ټاکنيزې مبارزې: د رأيه ورکوونکو د زياتو رأيو د جلب، جذب او ترلاسه کولو په منظور د سياسي ګوندونو يا خپلواکو کانديدانو هڅه او هاند دی .

۵- لومړنۍ پايلې: هغه معلومات چې د رأيو د شمېرنې له پايته رسېدو وروسته او د وروستيو پايلو له اعلام دمخه د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخوا وخت پر وخت اعلامېږي.

۶- وروستۍ پايلې: هغه معلومات چې د ټاکنيزو شکايتونو د مرکزي

نمايندگی ازاحزاب سياسی وکانديدان مستقل به منظور نظارت برروند انتخابات از طرف کميسيون مستقل انتخابات،اعتبار نامه دريافت می نمايند.

۳-مشاهدين :اشخاص ملی و بين المللی که به منظور مشاهدهٔ روند انتخابات ازطرف کميسيون مستقل انتخابات ،اعتبار نامه دريافت می نمايند.

۴- مبارزات انتخاباتی: جدوجهد احزاب سياسی يا کانديدان مستقل،به منظور جلب وجذب وکسب آرای بيشتر رأی دهندگان می باشد.

۵-نتايج ابتدائی:معلوماتی که بعد ازختم شمارش آراء و قبل از اعلام نتايج نهايی توسط کميسيون مستقل انتخابات وقتاً فوقتاً اعلام می گردد.

۶- نتايج نهائی: معلوماتی که بعد ازبررسی های کميسيون مرکزی

کمېسيون له څېړنو وروسته د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخوا تــصديق او خپرېږي.
۷- د شمېرنې مرکز: هغه ځای چې هلته رأيه اخيستنه صورت مــومي او ترلاسه شوې رأيې د رأيه ورکونې د پړاو له پايته رسېدو وروسته شـمېرل کېږي.
۸- د کانديدانو لومړنی لــست: د هغو کانديدانو لومړنۍ نــوم ليکنــه چـــې پـــه ټـــاکلو ځـــايونو کـــې نصبېږي.
۹- د کانديدانو وروستنی لست: د هغو کانديدانو نــوم ليکنــه چـــې د ټاکنيزو شکايتونو د اړوند کمېسيون لخوا د اعتراضونو له څېړنې وروسته، د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخـــوا تصديق او خپرېږي.
۱۰- قرنطين: په مؤقتــه توګــه د شمېرنې له بهير څخه د رأيې لرونکو صندوقونو بهر کول دي.
۱۱- اعتبار ليک: هغه ليکلی ســند

شـــکايات انتخابـــاتی از طـــرف کميسيون مستقل انتخابات تصديق و به نشر می رسد.
۷- مرکزشمارش: محلی کــه در آن رای گيـــری صـــورت گرفتـــه و آرای حاصـــله بعـــد ازخـــتم مرحلـــهٔ رأی دهـــی شـــمارش می گردد.
۸- لست ابتدائی کانديدان : نـــام نويسی اولـــی کانديـــدانی کـــه در محـــــلات معينـــــه نـــــصب می گردد.
۹- لست نهائی کانديـــدان :نـــام نويسی کانديـــدانی کـــه بعـــداز بررسی اعتراضات توسط کميسيون مربوط شکايات انتخاباتی از طـــرف کميسيون مستقل انتخابات تصديق و نشرمی گردد.
۱۰- قرنطين: خـــارج ســـاختن صندوق های حاوی آراء از رونـــد شمارش به طورمؤقت می باشد.
۱۱ـــ اعتبار نامه : سندی کتبی که

چې د ټاکنو د بهير د څارنې اوليدنې د اجازې يا د ټولنيزو رسنيو استازو ته د رپوټ د برابرولو په منظور د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخوا ورکول کېږي.

## د ټاکنو ډول

**درېيمه ماده:**

ټاکنې د آزادې، عمومي، پټې او مستقيمې رأيې له لارې صورت مومي.

## د رأيې د حق دبرابرۍ اصل

**څلورمه ماده:**

(۱) د شرايطو لرونکي رأيه ورکوونکي، ښځه او نر، په ټاکنو کې د رأيو له برابر حق څخه برخمن دي.

(۲) رأيه ورکوونکی په ټاکنو کې د يوې رأيې حق لري چې بلاواسطه هغه استعمالوي.

به منظور اجازۀ نظارت يا مشاهده بر روند انتخابات ويا تهيۀ گزارش براى نمايندگان رسانه هاى همگانى از طرف كميسيون مستقل انتخابات اعطاء مى شود.

## طرز انتخابات

**مادۀ سوم:**

انتخابات از طريق رأى آزاد، عمومى، سرى و مستقيم صورت مى گيرد.

## اصل تساوى حق رأى

**مادۀ چهارم:**

(۱) رأى دهندگان واجدشرايط، اعم از زن و مرد،در انتخابات از حق رأى مساوى برخوردار مى باشند.

(۲) رأى دهنده در انتخابات داراى حق يک رأى بوده كه بلا واسطه آنرا استعمال مى نمايد.

## د ارادې د آزادۍ د اصـــــــــل په پام کې نيول

**پنځمه ماده:**

رأيه ورکوونکي او کانديدان په ټاکنو کې په آزاده اراده ګډون کــوي . د ژبې، مذهب، قوم، جــنس، قبيلـــې، سمت، استوګنې، ټولنيز موقف او د دندې د موقف پــه اړه پــر رأيــه ورکوونکــــو او کانديــــــدانو باندې د هر ډول مــستقيم او غيـــر مـــستقيم محـــدوديت لګــــول ممنوع دي.

## د ادارو او اشخاصو همکاري

**شپږمه ماده:**

دولتي او غير دولتي ادارې، سياســـي ګوندونه، ټولنيز ســـازمانونه، مـــدني ټولنه او اړوند اشخاص مکلف دي د ټاکنو له خپلـــواک کمېـــسيون، د ټاکنيزو شکايتونو لـــه مرکـــزي او ولايتـــي کمېـــسيونونو او نـــورو کمېسيونونو سره چـــې د قـــانون د

## رعايـــــت اصـــــل آزادی اراده

**مادۀ پنجم:**

رأی دهنـــدگان و کانديـــدان در انتخابات با ارادۀ آزاد اشتراک می نمايند. اعمال هرنوع محـــدوديت مستقيم يا غير مستقيم بـــالای رأی دهند گان و کانديدان بـــه ارتبـــاط لسان، مذهب، قوم، جنس، قبيلـــه ، سمت، سکونت ، موقف اجتمـــاعی وموقـــف وظيفـــوی ممنـــوع می باشد.

## همکاری ادارات و اشخاص

**مادۀ ششم:**

ادارات دولتی و غير دولتی، احزاب سياســـی، ســـازمانهای اجتمـــاعی، جامعۀ مدنی واشخاص ذيربط مکلف اند با کميسيون مستقل انتخابـــات، کميسيون های مرکزی و ولايتـــی شـــکايات انتخابـــاتی و ســـاير کميسيون هائيکه طبق احکام ايـــن

حکمونو مطابق جوړېږي، همکاري وکړي او هغه تصميمونه چې دغه کمېسيونونه يې د واک په حدودوکې نيسي، عملي کړي.

## د ټاکنو په چاروکې د دولتي کار کوونکو نه لاسوهنه

اوومه ماده:

د دولتي ادارو مسئولين او کارکوونکي اوځايي با نفوذه اشخاص نشي کولی په مستقيمه ياغير مستقيمه توگه د ټاکنو په چاروکې لاسوهنه وکړي. دکانديد يا کانديدانو په گټه يا زيان له هر ډول دولتي آسانتياوو او سرچينو څخه گټه اخيستل جواز نلري. ددې قانون د حکمونو مطابق له دولتي شتمنۍ او عامه سرچينو او آسانتياوو څخه برابره گټه اخيستنه، لدې حکم څخه مستثنيٰ ده.

قانون ايجادمی گردد، همکاری نموده و تصاميمی را که اين کميسيون ها در حدود صلاحيت اتخاذ می کنند، تعميل نمايند.

## عدم مداخلۀ کارکنان دولتی درامور انتخابات

مادۀ هفتم :

مسئولين وکارکنان ادارات دولتی واشخاص بانفوذ محلی نمی توانند بطور مستقيم يا غير مستقيم درامورانتخابات مداخله کنند. استفاده ازهرنوع دارائی، تسهيلات ومنابع دولتی به نفع ياضرركانديد ياكانديدان جواز ندارد. استفادۀ مساوی از منابع وتسهيلات دولتی وعامه، مطابق احکام اين قانون ازاين حکم مستثنیٰ می باشد.

**لنډ نوم**

**اتمه ماده:**

د ټاکنو خپلواک کمېسیون لـدې وروسـته د کمېسیون پـه نـوم يادېږي.

## دوه یم فصل

## ټاکنيزې حوزې

**د ټاکنيزو حوزو ټاکل**

**نهمه ماده:**

د جمهوري رياست، ولسي جرګـې، ولايتي شوري، د ولسوالۍ شوري، د کلي شوري، ښاروال او د ښاروالیو د مجلسونو د غړو د ټاکنو د برګزارۍ په منظور ټاکنيزې حوزې په لانـدې توګه ټاکل کېږي:

۱- د جمهوري رياسـت د ټـاکنو لپاره، ټـول هېـواد يـوه ټـاکنيزه حوزه ده.

۲- د ولـسي جرګـې د غـړو د ټاکنو لپـاره هـر ولايـت يـوه ټـاکنيزه حـوزه ده او د کوچيـانو

**نام اختصاری**

**مادۀ هشتم :**

کمیسیون مستقل انتخابات منبعـد درایـن قـانون بنـام کمیـسیون یاد می شود.

## فصل دوم

## حوزه های انتخاباتی

**تعیین حوزه های انتخاباتی**

**مادۀ نهم:**

حوزه هـای انتخابـاتی بـه منظـور برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، ولسی جرگـه، شـورای ولایتـی، شورای ولـسوالی، شـورای قریـه، شـاروال ومجـالس شـاروالی هـا قـرار ذیـل تعیـین مـی گـردد:

۱- بـرای انتخابـات ریاسـت جمهوری، تمام کشور یک حـوزۀ انتخاباتی می باشد.

۲- برای انتخابات اعضای ولـسی جرگه هر ولایـت یـک حـوزۀ انتخابـاتی مـی باشـد و بـرای

لپاره د هېواد ټول قلمرو يوه ټاکنيزه حوزه ګڼل کېږي.

۳- د ولايتي شوري د غړو د ټاکنو لپاره، ټاکنيزه حوزه، اړوند ولايت دی.

۴- د ولسوالۍ شوري د غړو د ټاکنو لپاره، ټاکنيزه حوزه، اړونده ولسوالۍ ده.

۵- د کلي شوري د غړو د ټاکنو لپاره، ټاکنيزه حوزه اړوند کلی دی.

۶-د ښاروالانو دټاکنو لپاره، ټول ښاريوه ټاکنيزه حوزه ده.

۷- ناحيه دښاروالیو دمجلسونو دکرسيو د ټاکنو لپاره ټاکنيزه حوزه ده .

## د ټاکنيزو حوزو د پولو اختلافونه

لسمه ماده:

(۱) که چېرې په ولسوالۍ پورې د يوۀ کلي اويا په يوه ناحيه يا ښار

کوچی ها،تمام قلمرو کشور یک حوزۀ انتخاباتی ،شناخته می شود .

۳- برای انتخابات اعضای شورای ولایتی، حوزۀ انتخاباتی ولایت مربوط می باشد.

۴- برای انتخابات اعضای شورای ولسوالی، حوزۀ انتخاباتی ، ولسوالی مربوط می باشد.

۵- برای انتخابات اعضای شورای قریه، حوزۀ انتخاباتی قریه مربوط،می باشد.

۶- برای انتخابات شاروال ها،تمام شهر یک حوزۀ انتخاباتی می باشد .

۷- برای انتخابات کرسی های مجالس شاروالی ها، حوزۀ انتخاباتی ناحیه می باشد.

## اختلافات مرزی حوزۀ های انتخاباتی

مادۀ دهم:

(۱) هرگاه درخصوص تعلق یک قریه به ولسوالی ویا

پورې د يوۀ ښارګوټي د تعلق په برخه کې اختلاف پيدا شي، موضوع د تصميم د نيولو لپاره د کمېسيون له لارې د سيمه ييزې ادارې خپلواک رياست ته وړاندې کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی اختلاف په هغۀ صورت کې تر څېړنې لاندې نيول کېږي چې د ټاکنو د کېدو له نېټې څخه (۱۸۰) ورځې دمخه مطرح شوی وي.

## دريم فصل

## ټاکونکي او کانديدان

### د ټاکونکو شرايط

**يوولسمه ماده:**

هغه شخص په ټاکنو کې د رأيې ورکونې حق لري چې لاندې شرايط ولري:

۱– د ټاکنو په ورځ يې لږ ترلږه (۱۸) کلنی سن بشپړ کړی وي.

۲– د افغانستان تابعيت ولري.

یک شهرک به یک ناحیه یا شهر، اختلاف بروزنماید، موضوع جهت اخذ تصمیم ازطریق کمیسیون به ریاست مستقل ادارۀ محلی محول می گردد .

(۲) اختلاف مندرج فقرۀ (۱) این ماده درصورتی مورد رسیدگی قرار می گیرد که (۱۸۰) روز قبل از تاریخ تدویر انتخابات مطرح گردیده باشد .

## فصل سوم

## انتخاب کنند گان وکاندیدان

### شرایط انتخاب کنند گان

**مادۀ یازدهم:**

شخصی در انتخابات حق رأی دهی را دارد که واجد شرایط ذیل باشد:

۱– حداقل سن(۱۸) سالگی را در روز انتخابات تکمیل نموده باشد .

۲–تابعیت افغانستان را داشته باشد.

۳- د محکمې په حکم لــه مــدني حقوقو څخه محروم شوی نــه وي.

۴- نوم يې د رأيې ورکوونکــو پــه فهرست کې د کمېسيون لخوا ثبــت شوی وي.

## د کانديدانو شرايط

دوولسمه ماده:

(۱) هغه شخص کولی شي جمهوري رياست ته ځان کانديد کــړي چــې لاندې شرايط ولري:

۱- د افغانستان تبعه ، مسلمان او له افغان والدينو څخه زېږېدلی وي او د بل هېواد تابعيت ونلري.

۲- د کانديدېدو په ورځ يې سن له څلوېښتو کلونو څخه لږ نه وي.

۳- د محکمې لخوا د بشري ضــد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په حرمان محکوم شوی نه وي.

(۲) هغه شخص کولی شي ځان ملي شوري ته کانديد کړي چې لانــدې

۳- ازحقوق مدنی به حکم محکمه محــــروم نگرديــــده باشـــد.

۴- نــــام او در فهرســــت رأی دهندگان از طرف کميسيون ثبــت شده باشد.

## شرايط کانديدان

مادهٔ دوازدهم:

(۱) شخصی می تواند خــودرا بــه رياست جمهوری کانديد نمايدکــه واجد شرايط ذيل باشد :

۱ـــ تبعهٔافغانستان ،مسلمان ومتولد از والدين افغان بــوده و تابعيــت کشور ديگری را نداشته باشد .

۲- در روز کانديد شدن سن وی از چهل سال کمتر نه باشد .

۳- از طرف محکمه به ارتکــاب جرايم ضد بشری و جنايــت و يــا حرمان از حقوق مــدنی محکــوم نشده باشد .

(۲) شخصی می تواند خود را بــه شورای ملی کانديد نمايد که واجد

شرایط ولري:

۱- د افغانستان تبعه وي یا د کاندیدېدو یا ټاکل کېدو له نېټې څخه يې لږ ترلږه لس کاله دمخه د افغانستان تابعیت ترلاسه کړی وي.

۲- د محکمې لخوا په بشري ضد جرمونو اود جنایت په ارتکاب یا له مدني حقوقو څخه په حرمان محکوم شوی نه وي.

۳- د ولسي جرګې کاندید د کاندیدېدو په ورځ د پنځه ویشت کلنۍ سن اود مشرانو جرګې کاندید د کاندیدېدو یا ټاکل کېدو په ورځ، د پنځه دېرش کلنۍ سن بشپړ کړی وي.

۴- نوم يې د رأیې ورکوونکو په فهرست کې د کمېسیون لخوا ثبت شوی وي.

(۳) هغه شخص کولی شي ځان ولایتي شوري او د ولسوالۍ شوري ته کاندید کړي چې لاندې شرایط ولري:

شرایط ذیل باشد:

۱- تبعهٔ افغانستان بوده یا حد اقل ده سال قبل از تاریخ کاندید یا تعیین شدن، تابعیت دولت افغانستان را کسب کرده باشد .

۲- از طرف محکمه به ارتکاب جرایم ضد بشری، جنایت و یا حرمان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد .

۳- کاندید ولسی جرگه سن بیست و پنج سالگی را درروزکاندید شدن و کاندید مشرانو جرگه سن سی و پنج سالگی را در روز کاندید شدن یاتعیین شدن تکمیل کرده باشند .

۴- نام او در فهرست رأی دهندگان از طرف کمیسیون ثبت شده باشد.

(۳) شخصی می تواند خود را به شورای ولایتی و شورای ولسوالی کاندید نمایدکه واجد شرایط ذیل باشد:

۱- ددې قانون د يوولسمې مادې په (۲، ۳ او ۴) جزء کې درج شوي شرايط ولري.
۲- لږ تر لږه د پنځه ويشت کلنۍ سن يې د کانديدېدو په ورځ بشپړ کړی وي.
۳- لږ ترلږه له دوولسم ټولګي څخه د فراغت سند ولري.
۴- نېک شهرت ولري.
(۴) هغه شخص کولی شي د کلي شوري ته ځان کانديد کړي چې لاندې شرايط ولري:
۱- ددې قانون د يوولسمې مادې په (۲، ۳ او ۴) اجزاوو کې درج شوي شرايط ولري.
۲- لږترلږه د پنځه ويشت کلنۍ سن يې د کانديدېدو په ورځ بشپړ کړی وي.
۳- لږترلږه ليک لوست يې زده وي.
۴- نېک شهرت ولري.
(۵) هغه شخص کولی شي ځان د

۱- شرايط مندرج اجزای (۲، ۳ و۴)مادۀ يازدهم اين قانون را داشته باشد.
۲- حد اقل سن بيست وپنج سالگی را در روز کانديد شدن تکميل نموده باشد.
۳- حد اقل سند فراغت از صنف دوازدهم را داشته باشد .
۴- شهرت نيک داشته باشد .
(۴) شخصی می تواند خودرا به شورای قريه کانديد نمايد که دارای شرايط ذيل باشد:
۱- شرايط مندرج اجزای (۲، ۳ و ۴) مادۀ يازدهم اين قانون را داشته باشد.
۲- حد اقل سن بيست و پنج سالگی را درروز کانديد شدن تکميل نموده باشد.
۳- حد اقل خواندن ونوشتن را ياد داشته باشد.
۴- شهرت نيک داشته باشد.
(۵) شخصی می تواند خود را به

ولایت د مرکز د ښاروال په توګــه کاندیـــد کـــړي چـــې لانـــدې شرایط ولري:

۱- ددې قانون د یوولسمې مادې په (۲، ۳ او ۴) جـــزء کـــې درج شوي شرایط ولري.

۲- لږترلږه د دیرش کلنۍ سن یې د کاندیدېدو په ورځ بشپړ کړی وي.

۳- لږترلږه د لیـسانس تحـصیلي سند ولري.

۴- د کاندیدېدو له ورځـې دمخـه لږترلږه پنځه کاله په هغه ښارکې چې ځـان کاندیـد وي، اسـتوګنه ولري.

۵- نېک شهرت ولري.

(٦) هغه شخص کولی شي ځـان د ولسوالۍ او د ولایت له مرکز څخه بهر د ښاروال په توګه یا د ښاروالۍ مجلسونو ته کاندید کړي چې ددې مادې د (۵) فقرې په (۱،۲ ،۴او۵) اجزاوو کې پر درج شوو شــرایطو برسېره له دوولسم ټولګي څخــه د

حیث شاروال مرکز ولایت کاندید نمایـــد کـــه واجـــد شـــرایط ذیل باشد:

۱ــ شرایط مندرج اجزای ( ۲، ۳ و۴)مادهٔ یازدهم ایـن قـانون را داشته باشد.

۲- حداقل سن سی ســالگی را در روزکاندید شدن تکمیل نموده باشد.

۳- حد اقل سند تحصیلی لیسانس را داشته باشد .

۴- حد اقل پنج سال قبـل از روز کاندید شدن در شهری که خود را کاندیـد مـی نمایـد، سـکونت داشته باشد.

۵- شهرت نیک داشته باشد .

(٦) شخصی مـی توانـد خـودرا به حیـث شـاروال ولـسوالی و خارج مرکز ولایـت یـا مجـالس شاروالی کاندید نماید که علاوه بر شرایط منـدرج اجـزای (۱، ۲ ، ۴و۵) فقرهٔ (۵) این مـاده ، سـند فراغــت از صــنف دوازدهــم را

فراغت سند ولري.

(۷) هغه اشخاص چې د نظامي يا شبه نظامي تشکيلا تو (غير قانوني وسله والو ډلو) قومانداني په لاس کې ولري يا يې غړي وي، نشي کولی په ټاکنو کې د کانديد په توګه ګډون وکړي.په نظامي يا شبه نظامي تشکيلا تو (غير قانوني وسله والو ډلو) کې د اشخاصو قوماندانۍ يا غړيتوب دکمېسيون تر رياست لاندې، د ملي دفاع او کورنيو چارو د وزارتونو او ملي امنيت د عمومي رياست له استازو څخه د جوړ شوي جلا کمېسيون لخوا، تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

## د کانديدېدو لپاره محدوديت

ديارلسمه ماده:

(۱)لاندې اشخاص نشي کولی له خپلو دندو څخه له استعفي دمخه، ځانونه ددې قانون په دوولسمه ماده کې درج شوو ټاکنيزو عهدو ته

داشته باشد .

(۷) اشخاصی که فرماندهی تشکیلات نظامی یا شبه نظامی (گروه های مسلح غیر قانونی ) را دردست داشته یا عضو آن باشند ، نمی توانند درانتخابات به حیث کاندید اشتراک نمایند. فرماندهی یا عضویت اشخاص در تشکیلات نظامی یا شبه نظامی (گروه های مسلح غیر قانونی) توسط کمیسیون جداگانه متشکل از نمایندگان وزارت های دفاع ملی و امور داخله وریاست عمومی امنیت ملی تحت ریاست کمیسیون، مورد بررسی قرار می گیرد .

## محدودیت برای کاندید شدن

مادۀ سیزدهم:

(۱) اشخاص آتی نمی توانند قبل از استعفأ ازوظایف شان، خود را به عهده های انتخابی مندرج مادۀ دوازدهم این قانون

کانديد کېږي:

۱- د سترې محکمې رئيس او غړي او قاضيان.

۲- لوی ځارنوال او ځارنوالان.

۳- وزيران، سلاکار وزيران، دجمهوري رياست سالاکاران، خپلواک عمومي رئيسان، د خپلواکو کمېسيونونو رئيسان او غړي، د وزارتونو معينان او سلاکاران، واليان او د هغوی مرستيالان، ولسوالان او له هېواد څخه په بهر کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د مېشتو سياسي نمايندګيو استازي.

۴- د ملي دفاع او کورنيو چارو دوزارتونو، د ملي امنيت د عمومي رياست او دنظامي تشکيلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو عسکري منسوبين.

۵- د ملکي خدمتونو مامورين.

٦- د ټاکنو د خپلواک کمېسيون مؤقت او دايمي کارکوونکي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې ددې

کانديد نمايند:

۱- رئيس و اعضای ستره محکمه و قضات.

۲- لوی ځارنوال و ځارنوالان.

۳- وزرا، وزرای مشاور، مشاورين رياست جمهوری، رؤسای عمومی مستقل، رئيس واعضای کميسيون های مستقل ،معينان و مشاورين وزارت ها، وادارات واليان و معاونان آنها، ولسوالان ونمايندگان سياسی جمهوری اسلامی افغانستان مقيم خارج کشور.

۴- منسوبين عسکری وزارت های دفاع ملی و امور داخله و رياست عمومی امنيت ملی وساير وزارت ها و ادارات دارای تشکيلات نظامی.

۵- مامورين خدمات ملکی.

٦- کارکنان مؤقت و دايمی کميسيون مستقل انتخابات .

(۲) در صورتی که اشخاص مندرج

مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص په ټاکنو کې بريالي نشي، مخکنۍ دنده تر لاسه کولی نشي، خو دا چې د قانون د حکمونو مطابق بيا مقرر شي.

(۳) که چېرې د ټاکنيزو عهدو له غړو څخه يو وغواړي بلې ټاکنيزي عهدې ته ځان کانديد کړي، مکلف دی په موجوده عهده کې له خپل غړيتوب څخه استعفي وکړي.

(۴) هېڅ شخص نشي کولی په يوه وخت کې له يوې ټاکنيزې حوزې څخه په زياتو کې يا له يوې کرسۍ څخه زياتو ته ځان کانديد کړي.

## د رأيې ورکولو ځای

**څوارلسمه ماده:**

(۱) رأيه ورکوونکی مکلف دی په هغه ټاکنيزه حوزه کې چې نوم يې د رأيې ورکوونکو په فهرست کې درج

فقرۀ (۱) این ماده در انتخابات موفق نشوند، وظيفۀ قبلی را اشغال نموده نمی توانند، مگر اينکه مجدداً مطابق احکام قانون مقرر گردند.

(۳)هرگاه يکی از اعضای عهده های انتخابی بخواهد به عهدۀ ديگر انتخابی خود را کانديد نمايد مکلف است از عضويت خويش در عهدۀ موجود استعفاء نمايد.

(۴) هيچ شخص نمی تواند در عين زمان در بيش از يک حوزۀ انتخاباتی يا برای بيش از يک کرسی خود را کانديد نمايد.

## محل رأی دهی

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) رأی دهنده مکلف است درحوزۀ انتخا باتی که نام او در فهرست رأی دهندگان درج گرديده

شوی دی، رأیه ورکړي.

(۲) کمېسیون د امکاناتو په حدودوکې کوچیانو، مهاجرینو، کورنیو بېځایه شوو، معلولینو، ددفاع او کورنیو چارو د وزارتونو، د ملي امنیت د عمومي ریاست او د نظامي تشکیلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو عسکري منسوبینو، د دولتي ادارو کارکوونکو، دکمېسیون کارکوونکو او هغو محبوسینو ته چې له مدني حقوقو څخه محروم شوي نه وي، د رأیې ورکولو لپاره ځانګړې آسانتیاوې برابروي.

## د رأیې ورکوونکي د هویت تثبیتول

**پنځلسمه ماده:**

رأیهٔ ورکوونکی مکلف دی د رأیې ورکونې د پاڼې د ترلاسه کولو لپاره، د نوم ثبتونې کارت یا هغه سند چې د

است، رأی بدهد.

(۲) کمیسیون درحدود امکانات برای کوچی ها، مهاجرین، بیجا شدگان داخلی، معلولین، منسوبین عسکری وزارت های دفاع ملی و امور داخله، ریاست عمومی امنیت ملی و سایر وزارت ها و ادارات دارای تشکیلات نظامی، کارکنان ادارات دولتی، کارکنان کمیسیون و محبوسینی که از حقوق مدنی خود محروم نشده باشند، تسهیلات خاص را غرض رأی دهی فراهم می نماید.

## تثبیت هویت رأی دهنده

**مادهٔ پانزدهم:**

رأی دهنده مکلف است جهت حصول ورق رأی دهی، کارت ثبت نام یا سندی را که توسط کمیسیون

کمېسيون لخوا د هغـهٔ د هويـت د تثبيت په منظور مشخص شوی دی، وړاندې کړي.

**د رأيې ورکونې د پـاڼو بڼـه او شمېر**

**شپاړسمه ماده:**

د رأيې ورکونې دپاڼو بڼه او شمېر د کمېسيون لخوا ټاکل کېږي.

## څلورم فصل

## د جمهوري رياست ټاکنې

**د جمهور رئيس ټاکل**

**اووه لسمه ماده:**

(۱) جمهور رئيس د آزادې، عمومي، پټې او مستقيمې رأيې اخيستنې لـه لارې د رأيې ورکوونکو د رأيو لـه پنځوس سلنې څخه د زيات اکثريت په ترلاسه کولو سره ټاکل کېږي.

(۲) که چېرې له کانديـدانو څخـه هېڅ يو په لومړي دورکې ونکړی شي د رأيو له پنځوس سلنې څخه زيـات اکثريت لاسته راوړي، ټاکنې د پايلو

بـــه منظورتثبيـــت هويـــت او مـــشخص گرديـــده اســـت، ارائه نمايد.

**شـــکل وتعـــداد اوراق رأی دهی**

**مادهٔ شانزدهم :**

شکل و تعـــداد اوراق رأی دهـــی توسط کميسيون تعيين می گردد.

## فصل چهارم

## انتخابات رياست جمهوری

**انتخاب رئيس جمهور**

**مادهٔ هفدهم:**

(۱) رئـــيس جمهـــور باکـــسب اکثريـــت بـــيش از پنجـــاه فيـــصد آرای رأی دهنـــدگان از طريق رأی گيری آزاد، عمومی، سری ومستقيم، انتخاب می گردد.

(۲) هرگـــاه در دور اول هـــيچ يک ازکانديدان نتوانـد اکثريـت بـــيش از پنجـــاه فيـــصدآراء را بدســـت آورد انتخابـــات بـــرای

د اعلام له نېټې څخه د دوو اوونیو په موده کــې د دوه یــم دور لپـــاره جوړېږي او پدې دور کې یوازې دوه تنـــه هغـــه کاندیـــدان چـــې پـــه لـــومړي دورکـــې یـــې زیـــاتې رأیـــې لاســـته راوړي دي، گـــډون کوي. له دوو څخه دزیاتو کاندیدانو ترمنځ چې په لومړي دور کـــې ئـــې زیاتې رأیې ترلاسه کړي دي، د رأیو د تساوی په صورت کې، دوه تنـــه هغه کاندیدان چې ډېر لوړ معیارونـــه ولري، د سترې محکمې د رئیس تر ریاست لاندې، د سترې محکمې له دووغړو او د کمېسیون له دووغـــړو څخه د جوړې شوې کمیټې لخـــوا زیات نه زیـــات د (۴۸) ســـاعتونو مودې په ترخ کې، د دوه یمې دورې کاندید په توگه ټاکل کېږي.

د ټاکنو په دوه یم دورکې هغه کاندید چې د رأیو اکثریت ترلاسه کـــړي، رئیس جمهور پېژندل کېږي.

په دوه یم دورکې د کاندیدانو ترمنځ

دور دوم در ظـــــرف دو هفتـــــه از تاریخ اعلام نـــتایج انتخابات، بر گـــزار مـــی گـــردد و در ایـــن دور تنهـــا دو نفـــر از کاندیـــدانی که بیـــشترین آراء را در دور اول بدست آورده اند ، شـــرکت مـــی نمایند. در صـــورت تـــساوی آراء میان بـــیش از دو کاندیـــد یکـــه بیـــــــشترین آراء را در دور اول بدســـــت آورده انـــــد، دو نفـــر کاندیدانی که عالیترین معیـــار هـــا را داشته باشند، تـــوسط کمـــــیتهٔ مرکب از دو عضو ستـــره محکمه و دو عـــضــــو کمیـــسیون بـــه ریاست رئیس ستره محکمـــه حـــد اکثـــر در خلاـــل مـــدت(۴۸) ساعت بـــه حیـــث کاندیـــد دور دوم تعیین می گردند.

در دور دوم انتخابات، کاندیدی که اکثریت آراء را کسب کند، رئیس جمهور شناخته می شود.

درصـــورت تـــساوی آراء میـــان

د رأیو د تساوی په صورت کې د ټاکنو ګټونکی، د سترې محکمې د رئیس تر ریاست لاندې د سترې محکمې له دووغړو او د کمېسیون له دوو غړو څخه د جوړې شوې کمیټې لخوا زیات نه زیات د (۴۸)ساعتونو مودې په ترڅ کې، ډېرولوړو معیارونو له په پام کې نیولو سره اعلامېږي.

(۳) که چېرې د جمهور رئیس له کاندیدانو څخه یو د رأیې اخیستنې په لومړي یا دوه یم دور کې یا له ټاکنو وروسته او د ټاکنو د پایلو له اعلام دمخه وفات شي، ټاکنې ددې قانون د حکمونو مطابق بیا ترسره کېږي.

(۴) که چېرې له کاندیدانو څخه یو د ټاکنو په دوه یم دور کې ګډون ونکړي یا ټاکنې تحریم کړي، بل کاندید د قانون په حکم ګټونکی پېژندل کېږي.

کاندیدان در دور دوم، برندهٔ انتخابات توسط کمیتهٔ مرکب از دو عضوستره محکمه و دو عضو کمیسیون به ریاست رئیس ستره محکمه حد اکثر در خلال مدت (۴۸)ساعت با نظرداشت عالیترین معیار ها اعلام می گردد.

(۳) هرگاه یکی ازکاندیدان ریاست جمهوری درجریان دوراول یا دوم رأی گیری و یا بعد از انتخابات وقبل اعلام نتایج انتخابات وفات نماید، انتخابات، مجدداً مطابق احکام این قانون بر گزارمی گردد.

(۴) هرگاه یکی از کاندیدان در دور دوم انتخابات شرکت ننماید یا انتخابات را تحریم نماید، کاندید دیگر به حکم قانون برنده شناخته می شود.

**د جمهور رئيس دکار پيل**

**اتلسمه ماده:**

منتخب جمهور رئيس د ټاکنو دپايلو له اعلام څخه دېرش ورځې وروسته په کار پيل کوي.

## پنځم فصل

## د ولسي جرګې ټاکنې

**د ولسي جرګې د غړو شمېر**

**نولسمه ماده:**

ولسي جرګه (۲۴۹) کرسۍ لري چې د کرسيو له مجموع څخه (۱۰) کرسۍ د کوچيانو او (۲۳۹)کرسۍ د نفوسو د تناسب له په پام کې نيولو سره ولايتونو ته ځانګړې (اختصاص)کېږي او د کرسيو له مجموع څخه له هر ولايت څخه په منځنۍ توګه لږ ترلږه دوه ښځې وکيلانې د ولسي جرګې غړيتوب ته لاره مومي.

**آغاز کار رئيس جمهور**

**مادۀ هجدهم:**

رئيس جمهور منتخب، سی روز بعد از اعلام نتايج انتخابات به کار آغاز می نمايد.

## فصل پنجم

## انتخابات ولسی جرگه

**تعداد اعضای ولسی جرگه**

**مادۀ نزدهم :**

ولسی جرگه دارای (۲۴۹)کرسی می باشد که از مجموع کرسی ها به تعداد (۱۰)کرسی برای کوچی ها و (۲۳۹) کرسی با درنظرداشت تناسب نفوس به ولايات اختصاص داده می شود واز مجموع کرسی ها از هر ولايت طور اوسط حد اقل دو وکيل زن به عضويت ولسی جرگه راه می يابد.

## د كرسيو ځانګړي كول

**شلمه ماده:**

(۱) كمېسيون (۲۳۹) كرسۍ د ولايتونو لپاره په لاندې توګه ځانګړې كوي:

۱- د ولايتونو مجموعي نفوس پر (۲۳۹) ځانګړو شوو كرسيو باندې پر ولايتونو وېشل كېږي ترڅو د يوې كرسۍ لپاره د نفوسو ونډه وټاكل شي.

۲- د هر ولايت نفوس د يوې كرسۍ لپاره د نفوسو پر ونډه وېشل كېږي څو د هر ولايت دكرسيو شمېر وټاكل شي .

۳- هر ولايت ته ددې فقرې په (۲) جزكې درج له سرته رسېدلي وېش څخه له ترلاسه شوي تام عدد سره مساوي شمېر كرسۍ ځانګړې كېږي.

۴- هغه كرسۍ چې ددې فقرې په (۳) جز كې نه ځانګړې كېږي،

## اختصاص كرسى ها

**ماده بيستم:**

(۱) كميسيون (۲۳۹) كرسى را براى ولايات قرار ذيل اختصاص مى دهد:

۱- نفوس مجموعى ولايات بر(۲۳۹) كرسى اختصاص داده شده بالاى ولايات تقسيم مى شود تا سهميۀ نفوس براى يک كرسى معين شود.

۲- نفوس هر ولايت بر سهميۀ نفوس براى يک كرسى، تقسيم مى شود تا تعداد كرسى هاى هر ولايت معين شود.

۳- براى هر ولايت تعداد كرسى مساوى با عدد تام حاصله از تقسيم انجام شده مندرج جزء (۲) اين فقره اختصاص داده مى شود.

۴-كرسى هائيكه درجز (۳) اين فقره اختصاص نمى يابند، اختصاص

د هغو اختصاص ددې فقرې پــه (۲) جزء کې له ترسره شوي وېش څخه د پاتې اعشاري عدد دنزولي ترتيـب پربنسټ، صورت مومي.

۵- که چېرې ددې محاسبې په پايله کې يوه يا څو ولايتونو تــه لــه دوو کرسيو څخه کمې کرسۍ ورسېږي، هغه ولايت ته دوه کرسۍ ځــانګړې کېږي.

٦- د هغو ولايتونو د کرسيو او نفوسو د ارقامو مجموع چــې ددې فقــرې د (۵)جز په اساس هغوی ته اضافي کرسۍ ځانګړې شوي دي، د(۲۳۹) کرسيو له مجموع او د ولايتونو دنفوسوله مجموعې څخه کمېږي. د پــاتې ولايتونــو لپــاره کرســۍ اختــصاص يــوه نــوې ونــډه محاســبه کېــږي او ددې ولايتونو لپاره د کرسيو تخصيص په هغهٔ ډول چــې ددې فقــرې پــه (۲ او ۵) اجزاووکې راغلی دی، تکرارېږي.

(۲) کمېسيو ن مکلف دی، پــه دې ماده کې درج په ځــانګړو شــويو

شان به اساس ترتيب نزولــی عــدد اعشاری باقيمانده از تقسيم انجــام شــده در جــزء(۲ ) ايــن فقــره صورت می گيرد.

۵- هرگاه در نتيجهٔ اين محاســبه به يک يــا چنــد ولايــت کمتــر از دو کرســی برســد، بــه آن ولايت دو کرسی اختــصاص داده می شود.

٦- مجموع کرسی هــا و ارقــام نفوس ولاياتی که به آنهــا کرســی های اضافی به اساس جزء (۵) اين فقره اختصاص يافتــه، از مجمــوع (۲۳۹)کرسی ومجمــوع نفــوس ولايات کــسرمی گــردد. بــرای باقيمانده ولايات يک سهميهٔ جديد، اختصاص کرسی،محاسبه شــده و تخصيص کرسی برای اين ولايــات به نحوی کــه دراجــزای (۲و۵) اين فقره تذکر رفته،تکرار می شود.

(۲) کميــسيون مکلــف اســت محاســبات مــورد اســتفاده در

کرسيو کې د استفادې وړ محاسبات خپارۀ کړي .

## د هېـــواد دنفوســـود ارقـــامو تثبيت

**يوويشتمه ماده:**

د مرکزي احصايې اداره مکلفه ده، د کمېسيون لخوا په ټاکل شوې مـــوده کې د هر ولايت د نفوسو نوي رسمي ارقام د کمېـــسيون پـــه واک کـــې ورکړي.

## د ولايتونو دکرسيو سپارل

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) پـــه هرولايـــت کـــې کرســـۍ هغو کانديدانو تـــه ســـپارل کېـــږي چې زياتې رأيې ئی ترلاسه کړې دي. د ښـــځو لپـــاره ځـــانګړې شـــوې کرسۍ له دې حکم څخـــه مـــستثنيٰ دي.

(۲) د دوو کانديـــدانو د رأيـــو د تساوۍ په صورت کـــې، مـــستحق شخص د سترې محکمې د يوۀ غړي

تخصيص کرسی ها ی مندرج ايـــن ماده را نشر نمايد.

## تثبيـــــت ارقـــــام نفـــــوس کشور

**مادۀ بيست و يکم:**

ادارۀ مرکزی احصائيه مکلف است درمـــدت تعيـــين شـــده توســـط کميسيون، جديد ترين ارقام رسمی نفوس هـــر ولايـــت را در اختيـــار کميسيون قرار دهد.

## تفويض کرسی های ولايتی

**مادۀ بيست ودوم:**

(۱) درهر ولايت کرسی هـــا بـــه کانديدانی تفويض می گـــردد کـــه بيشترين آراء راکسب نموده انـــد. کرسی های اختصاص يافته بـــرای کانديدان زن از اين حکم مـــستثنی می باشد .

(۲) درصورت تساوی آراء ميـــان دوکـــــانديد، شـــخص مـــستحق توســـط کميتۀ متـــشـــکل ازيـــک

په رياست او د کمېسيون د دووغړو په غړيتوب د جوړې شوې کميټې لخوا، ډيرولوړو معيارونو له په پام کې نيولو سره، زيات نه زيات د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې ټاکل کېږي.

(۳) که چېرې ټاکل شوى غړى ونکړى شي خپله کرسۍ اشغال کړي يا په ځينو د ليلونو خپله کرسۍ دولسي جرګې د کار په دوره کې، پرېږدي، وفات شي يا استعفي وکړي يا عزل شي يا په داسې ډول معيوب يا معلول شي چې په دايمي توګه د دندې داجراء خنډ وګرځي، د هغۀ کرسۍ دکمېسيون دترتيب شوي لست مطابق له عين جنس (ذکور يااناث) څخه په وروستي کانديد پورې اړه نيسي، په دې شرط چې لږ تر لږۀ يو کال د ولسي جرګې دکاردورې ته پاتې وي.

که چېرې له عين جنس څخه کانديد موجود نه وي، دنظر وړ کرسۍ د

عضوستره محکمه به حيث رئيس ودوعضو کميسيون به حيث اعضاء بانظر داشت عاليترين معيارها حد اکثردر خلال مدت (۱۵)روز تعيين مى گردد.

(۳) هرگاه عضومنتخب نتواندکرسى خود را اشغال نمايد يا به دلايلى کرسى خود را دردورۀ کار ولسى جرگه ترک، وفات يا استعفاء نموده يا عزل شود وياطورى معلول يا معيوب گردد که بطور دايم مانع اجراى وظيفه شود، کرسى وى طبق لست مرتبۀ کميسيون به کانديد بعدى داراى بيشترين آراء ازعين جنس (ذکور يا اناث) تعلق مى گيرد، مشروط براينکه حداقل يک سال به دورۀ کار ولسى جرگه باقى مانده باشد.

هرگاه کانديد از عين جنس موجود نباشد، کرسى مورد نظر بدون

جنسيت د نه په نظر کېږ نيولو سره په هغهٔ کانديد پورې اړه نيسي چې د کانديدانو په لست کې يې زياتې رائې تر لاسه کړې دي.

(۴)که چېرې د ولسي جرګې ټاکل شوی کوچی غړی ونګړي شي خپله کرسۍ اشغال کړي يا په ځينو د ليلونو خپله کرسۍ دولسي جرګې د کار په دوره کې، پرېږدي، وفات شي يا استعفي وکړي يا عزل شي او يا په داسې ډول معيوب يا معلول شي چې په دايمې توګه ددندې د اجراء خنډ وګرځي، د هغهٔ کرسۍ دکمېسيون دترتيب شوي لست مطابق له عين جنس (ذکور يا اناث ) څخه په وروستي کانديد پورې اړه نيسي، په دې شرط چې لږ تر لږهٔ يوکال د ولسي جرګې دکاردورې ته پاتې وي.

که چېرې له عين جنس څخه کانديد

نظر داشت جنسيت به کانديدی که بيشترين آراء را در لست کانديدان بدست آورده است، تعلق می گيرد.

(۴) هرگاه عضو منتخب کوچی ولسی جرگه نتواند، کرسی خود را اشغال نمايد، يا به دلايلی کرسی را در دورهٔ کارولسی جرگه ترک، وفات يا استعفاء نموده يا عزل گردد و يا طوری معلول يا معيوب گردد که بطور دايم مانع اجرای وظيفه شود، کرسی وی طبق لست مرتبهٔ کميسيون به کانديد بعدی دارای بيشترين آراء از عين جنس (ذکور يا اناث ) تعلق می گيرد، مشروط بر اينکه حد اقل يک سال به دورهٔ کار ولسی جرگه باقی مانده باشد.

هرگاه کانديد از عين جنس

موجود نه وي، د نظر وړ كرسۍ د جنسيت دنه په نظر كې نيولو سره په هغۀ كانديد پورې اړه نيسي چې د كانديدانو په لست كې يې زياتې رأيې تر لاسه كړيدي.

## ښځې كانديدې ته د كرسۍ ځانګړي كول

**درويشتمه ماده:**

(۱) كمېسيون د ښځينه كانديدانو د حد اقل ټاكنې لپاره چې په هر ولايت كې بايد و ټاكل شي، داسې كړنلاري ا و فورمول ترتيبوي چې د هر ولايت پر نفوسو بنا وي، څو د افغانستان د اساسي قانون د دري اتيايمې مادې مقتضيات چې بايد د منتخبو ښځينه كانديدانو شمېر لږ تر لږه دموجود و ولايتونو دشمېر دوه برابره وي ، تأمين شي .

(۲) هغه كانديدان چې په هره ټاكنيزه حوزه كې زياتې رأيې ترلاسه كړي، ددې مادې

موجود نباشد، كرسی موردنظربدون نظر داشت جنسيت به كانديدی كه بيشترين آراء را در لست كانديدان بدست آورده است، تعلق می گيرد.

## اختصاص كرسی به كانديد زن

**مادۀ بيست وسوم :**

(۱)كميسيون براى تعيين حداقل كانديدان زن كه در هر ولايت بايد انتخاب شوند ،طرزالعمل ها وفورمولی را ترتيب می نمايد كه مبتنی بر نفوس هر ولايت باشد، تا مقتضيات مادۀ هشتاد و سوم قانون اساسی افغانستان كه بايد تعداد كانديدان منتخب زن حد اقل دو چند تعداد ولايات موجوده باشد، تأمين گردد.

(۲) كانديدانی كه در هر حوزۀ انتخاباتی بيشترين آراء را كسب نمايند، حسب فورمول

په (۱) فقره کې د درج شوي فورمول له مخې کرسۍ ورته ځانګړې کېږي. د ونډې د شرایطو په پلې کېدو سره پاتې کرسۍ، ددې قانون د شلمې مادې مطابق ځانګړې کېږي.

(۳) په هغهٔ صورت کې چې د کاندیدانو په لست کې، د ښځو کافي شمېر وجود ونلري ترڅو په یوه ټاکلې ټاکنیزه حوزه کې ښځو ته ځانګړې شوې کرسۍ یا کرسۍ ګانې اشغال کړي، کمېسیون ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوې کړنلارې مطابق داسې تدبیرونه نیسي څو ښځو ته ځانګړې شوې کرسۍ ګانې (له عین جنس څخه) تشې پاتې نشي.

## شپږم فصل

## مشرانو جرګه

**د مشرانو جرګې جوړښت**

**څلېریشتمه ماده:**

د مشرانو جرګې د غړو شمېر، د

مندرج فقرهٔ(۱) این ماده، برای شان کرسی اختصاص می یابد. با تحقق شرایط سهمیه، کرسی های باقی مانده مطابق مادهٔ بیستم این قانون اختصاص داده می شود.

(۳) درصورتی که در لست کاندیدان، تعداد کافی کاندیدان زن وجود نداشته باشد تا کرسی یا کرسی های اختصاص یافته به زنان را در یک حوزهٔ معین انتخاباتی اشغال نماید، کمیسیون طبق طرزالعمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تدابیری را اتخاذ می نماید تا کرسی ها ی اختصاص یافته به زنان (از عین جنس) خالی باقی نه ماند.

## فصل ششم

## مشرانو جرگه

**ترکیب مشرانو جرگه**

**مادهٔ بیست وچهارم :**

تعداد اعضای مشرانو جرگه،

هېواد د ولايتونو د شمېر درې چنده دی. لدې جملې څخه يو شمېر يې د څلورو کلونو مودې لپاره د اړوندې شورې په ټاکنه د ولايتي شورې ګانو له غړو څخه او يو ثلث يې د دريو کلونو مودې لپاره د اړوندې شورې په ټاکنه د هر ولايت د ولسواليو د شورې ګانو د غړو له جملې څخه او پاتې يو ثلث يې د قانون د حکمونو مطابق د خبيرو او تجربه لرونکو شخصيتونو له جملې څخه د جمهور رئيس لخوا د پنځو کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي.

## د ولايتي شورې د استازي ټاکل

**پنځه ويشتمه ماده:**

